# مسلمان ته کنځل کول فسق دی، او له هغه سره جنګ کول کفر دی

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "مسلمان ته کنځل کول فسق دی، او له هغه سره جنګ کول کفر دی".
[صحیح] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمان له دې منع کړی چې خپل مسلمان ورور ته سپکې سپورې ووایي او دا یو ډول فسق او د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له اطاعت څخه وتل دي، او مسلمان ورور سره جګړه کول یو ډول کفري عمل دی، خو کوچنی کفر دی (چې مرتکب یې د اسلام له دایرې څخه نه وځي).

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5333